د افغانستان اسلامي جمهوریت

د اقتصاد وزارت

# میدان وردک ولایتي پروفایل

اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته یوه کتنه



د میدان وردک ولایت

د اقتصاد ریاست

وری ۱۳۹۸



# دمطالبو لیکلړ


سریزه............ ۱
مننلیک ............ ۲
د والي صاحب پیغام ............ ۳
لنډیز ............ ٤
میتودولوژي(د جوړولو طریقه): ............ ٥
د دې سند پیژندنه ............ ٦
**لومړی څپرکی ............ ۷**
د ولایت په اړه عمومي مالومات............ ۷
دولایت پیژندنه: ............ ۷
د میدان رودگو ولایت دتاریخ په هنداره کې ............ ۸
دنوم ایښیدلو وجه............ ۱۰
عمومي نفوس/ وګړي ............ ۱۰
دمیدان وردگو ولایت توپوګرافیکی نقشه ............ ۱۱
دولایت لرغوني برخې او تاریخي ماڼې(دودونه اورواجونه)............ ۱۲
*دسلطان بند ............ ۱۲*
*د هلاکو غر............ ۱۳*
*برغولی............ ۱۳*
**دویم څپرکی ............ ۱٤**
اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته یوه کتنه ............ ۱٤
د ولایت د ټولیز وضعیت ارزونه............ ۱٤
۱. د دروغتیا د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه ............ ۱۸
روغتیایي متخصصین او مسلکي کسان............ ۱۹
دولتي او خصوصي روغتونونه ............ ۱۹
روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی............ ۱۹
۲. د پوهنې د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه ............ ۲۱
دولتي او خصوصي ښوونځي ............ ۲۲
دولتي او خصوصي پوهنتونونه ............ ۲٤
کلنی بودیجه او پانگونه ............ ۲٥
۳. د زیربنا اوطبیعي سرچینو د سکټور............ ۲٦
ښاري پراختیا ............ ۲۷
دڅښلوروغتیایي اوبوته لاس رسی ............ ۲۸
هوایي او ځمکني ترانسپورت ته لاس رسی، ............ ۲۹
برق انرژی ته لاس رسی ............ ۲۹
مخابراتی معلوماتي خدمتونو اوتکنالوژی ته لاس رسی............ ۳۰
د زیربنا او طبیعی سرچینو په سکټور کې د وګړو بوختیا ............ ۳۱

کلنی بودیجه او پانګونه ............................................................................................................ ۳۵
اقتصادی ودې ته کتنه: .............................................................................................................. ۳۷
د کرنې او د کلو د پراختیا د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه.................................................................... ۳۷
کرنیز محصولات...................................................................................................................... ۳۹
څمکه او اوبه لګونه.................................................................................................................. ٤۱
کلنی بودیجه او پانګونه.............................................................................................................. ۵۲
۵. داقتصادی پراختیا او خصوصي سکټور د ودې سکټور ........................................................................... ۵٤
د بې وزلۍ وضعیت ................................................................................................................. ۵۵
دکار په عمرونوکې دوګړو کچه ..................................................................................................... ۵۵
مالیاتي او غیرمالیاتي عواید........................................................................................................ ۵۵
ددولتي اوخصوصی بانکونه .......................................................................................................... ۵٦
کلنی بودیجه او پانګونه.............................................................................................................. ۵٦
٦. د ټولنیز خوندیتوب سکټور......................................................................................................... ۵۸
په میدان وردګو ولایت کې د کوچیانو اوسنی وضعیت او ستونزې ..................................................................... ٦۰
**دریم څپرکی** .......................................................................................................................... **٦۱**
دمیدان وردګو ولایت پرمختییای بودجه اولګبنت............................................................................................ ٦۱
معارف:.................................................................................................................................. ٦۱
بودجه معارف:............................................................................................................................ ٦۱
زراعت:..................................................................................................................................... ٦۲
بودجه بخش زراعت:..................................................................................................................... ٦۳
تحصیلات عالی: .......................................................................................................................... ٦٤
بودجه تحصیلات عالی: ................................................................................................................. ٦٤
*صحت عامه:* ............................................................................................................................ *٦٤*
*بودجه بخش صحت عامه:*.................................................................................................................. *٦۵*
*انرژی و آب:* .............................................................................................................................. *٦٦*
*بودجه بخش انرژی وآب :*................................................................................................................. *٦٦*
*فواید عامه:*................................................................................................................................ *٦٦*
*بودجه فواید عامه:*.......................................................................................................................... *٦۷*
پروژه های ولایت وردک:.................................................................................................................. ٦۷
**څلورم څپرکی** ......................................................................................................................... **۷۲**
ټولنیز خوندیتوب او دجندر تحلیل........................................................................................................ ۷۲
په میدان وردګو ولایت کی د جندرتحلیل .................................................................................................. ۷۲
درسنیوفعالیت ............................................................................................................................ ۷۷
**پنځم څپرکی** ........................................................................................................................... **۷۸**
دمیدان وردګو ولایت داقتصادی ودی زراعتی طرحه........................................................................................ ۷۸
دطرحی نوم: د و میدان وردګو ولایت د منو په اړه طرح ................................................................................ ۷۸
**شپږم څپرکی** ........................................................................................................................... **۸۰**

د افغانستان د سولې او پرمختيا ملي چوکاټ او د ملي لومړيتوبونو پروګرامونه (ANPDF/ NPPS) ........ ۸۰
۱. د خصوصي سکټور د پراختيا پروګرام ........ ۸۰
*دمالی سکتور اصلاحات ........ ۸۱*
۲. د ولسي ترون پروګرام ........ ۸۲
۳. د اغېزمنې حکومتوالۍ پروګرام ........ ۸۳
۴. د عدلي سکټور د رغولو پروګرام ........ ۸۵
۵. د کرنې د پراختيا هراړخيز پروګرام ........ ۸۶
۶. د اړيکو او زيربنا پروګرام ........ ۸۸
۷. د ښاري پراختيا پروګرام ........ ۸۹
۹. د کانونو او طبيعې سرچينو د پراختيا ملي پروګرام ........ ۹۱
۱۰. د بشري سرچينو د پراختيا پروګرام ........ ۹۲
۱۱. د ښځو د اقتصادي پياوړتيا پروګرام ........ ۹۳
*دافغانستان جنډر ستراتيژي ........ ۹۳*
**اووم څپرکي : ........ ۹۴**
سروی وضعيت زنده گی در افغانستان : ........ ۹۴
وضعيت زنده گی مردم ولايت ميدان وردک به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ : ........ ۹۴
سروی وضعيت زنده گی به سطح ملی : ........ ۹۶
گزيده شاخص های احصائيوی به سطح ملی : ........ ۹۷
ترکيب نفوس کشور در سال ۱۳۹۶ ........ ۹۸
**اتم څپرکی ........ ۱۲۰**
د افغانستان د پايښت پرمختيا موخې........ ۱۲۰
د افغانستان د پايښتي پرمختيا د موخو عمومي پيژندنه ........ ۱۲۰
د پايښتي پراختيايي موخو(SDGs) پروګرام ليدلوری ........ ۱۲۱
*د پايښتي پراختيايي موخو پروګرام تمرکز ........ ۱۲۱*
د ۱۷ موخو سمبوليک لنډيز ........ ۱۲۱
د افغانستان لپاره پايښتي پراختيايي موخې(A-SDGs) ........ ۱۲۲
*د افغانستان لپاره د پايښتي پراختيايي موخو(A-SDGs) اهميتافغانستان ........ ۱۲۲*
*موخو(A-SDGs) د ملي کولو په برخه کې مهمې لاسته راوړنې........ ۱۲۳*
د افغانستان د پايښتي پراختيايي موخو(A-SDGs) د مشرتابه او څارنې جوړښت: ........ ۱۲۴
د افغانستان د پايښتي پراختيايي موخو(A-SDGs) کاري کمېټې او ډلې ........ ۱۲۵
د بوديجوي نهادونو مسئوليتونه ........ ۱۲۶
د پايښتي پراختيايي موخو د اغيزمن تطبيق په تړاو مشورتي غونډې کول؛ ........ ۱۲۶
*په افغانستان کې د بنسټيزو پراختيايي موخو تارګېټونه او شاخصونه : ........ ۱۲۷*
سرچينې او مأخذونه ........ ۱۵۰

## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| CSO | د مدني ټولنې اداره |
| DDA | د ولسوالۍ پراختیايي شورا |
| GDDC | د طرحې او توحید عمومي ریاست |
| DGO | د ولسوالۍ مقام دفتر |
| ISLA | سیمه ییزه ادارو د پیاوړتیا نوښت |
| IDLG | د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره |
| INGO | نړیواله نادولتی موسسه |
| LoGo | سیمه ییزه حکومتوالي (هغه پروژه چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام -UNDP له خوا پلې کیږي) |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| PAP | کلنۍ ولایتي پلان |
| PBP | د ولایتي بودیجې پالیسي |
| PC | ولایتي شورا |
| PCM | د ولایتي شوراغړي |
| PCO | د ولایتي شورا دفتر |
| PDC | ولایتي پرمختیایي کمېټه |
| PDPG | د ولایتي پرمختیایي پلان جوړونې لارښود |
| PGO | د ولایت مقام دفتر |
| PSP | ولایتي ستراتیژیک پلان |
| DoEc | ولایت د اقتصاد ریاست |
| PIMS | د ولایتي مالوماتو مدیریت سیستم |
| PTC | ولایتي تخنیکي کمېټه |
| PPFMC | د عامه مالي مدیریت ولایتي کمېټه |
| PSTC | د ولایتي سکټور تخنیکي کمېټه |
| PLMD | اړونده ولایتي ریاست |
| USAID | د متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره |
| WB | نړیوال بانک |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام |

# سریزه



په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي سرچینو ساتنې او پراختیا ته اړتیا لري تر څو وکړای شي د پراختیا بهیر د هغه پر بنسټ عیار او همغږی کړي. د دې بهیر د اړینو مسئلو له ډلې څخه د سوداګرۍ، ټرانزیټ، صنعت، لاسي صنایعو، داخلي تولیداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختیایي سرچینې دي چې د کرنیزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټېنشیلونو د ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختیا بهیر په منظمه او ښه توګه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساینې او پرمختګ په لوري ولیږدوي.

په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولګې یا ولایتي پروفایل شتون، د بشري ټولنې په بیلابیلو برخو په تیره بیا د پلان جوړونې او پالیسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړین ګڼل کیږي.

د اقتصاد وزارت ویاړي چې د هیواد په کچه د یو ریښتیني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولایتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسی په برخه کې اسانتیا برابره کړي او د پلان جوړونکو، څیړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خیریه بنسټونو، زده کوونکو او لیکوالانو لپاره ولایتي پرمختیایي او اقتصادي معلوماتي ټولګه(پروفایل) جوړ کړي. دغه پروفایل د تخنیکي کمیټی له خوا چې مرکزي او ولایتي مسلکي کارکوونکو په کې ګډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولایتي نهادونو په مرسته او همکاری جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کیږي.

یاد پروفایل تر ډیره بریده پر عامه هوساینې او د اقتصادي او ټولنیز حالت پر څرنګوالي، تاریخي قدامت، د پرمختیایي سکتورونو د حالت پر ارزونې، زیربنا او نورو مهمو پرمختیایي مسایلو باندې تمرکز لري او په ټولیز ډول سره د ولایتونو اقتصادي او ټولنیز لیرلید لکه اقتصادي او ټولنیز ظرفیتونه، د اقتصادي ودې او پرمختیا په وړاندې ننګونې، د اقتصادي هوساینې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.

ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګه(پروفایل) مرسته کوي تر څو بودیجوي نهادونه، د پرمختیایي پلان جوړونې بهیر د ولایت د اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو او لومړیتوبونو پر بنسټ تنظیم کړي او د نړیوالې ټولنې مالي مرستې د ولایت له اړتیاوو او لومړیتوبونو سره همغږي کړي تر څو د ولایت په کچه د عامه هوساینې د سمون لپاره لاره هواره شي.

زه له دې فرصت څخه په ګټه اخیستنې د ولایتي پروفایل جوړولو د کمیټې له غړو څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زیار ته د قدر په سترګه ګورم چې په دې کار کې ښکیل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**

**د اقتصاد وزیر**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر گام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توګه، د پانګه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څیړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزو ادارو د پیاوړتیا نووښت(ISLA) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه ګڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین اود ښاغلی نویدالرحمن "شهباز" د میدان وردک ولایت داقتصاد رییس ، څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاري کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنسټونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانګی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لګښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنګوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**

**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د والي صاحب پیغام



د میدان وردگو ولایت چې د هېواد له مرکز سره په پوله پروت ، ستراتیژیک موقعیت لري، له پرمختیایي پلوه څرنګه چې لازمه وه  د کرنې او په ځانګړې توګه د صنعت په برخه چې د بیوزلۍ د منځه وړلو لپاره مهم ګڼل کیږي هسې پرمختګ چې اړین وو په تیرو څو کلونو کې ندی کړی او د هیواد په کچه د بیوزلو ولایتونو په ډله کې شمیرل کیږي چې همدې ته په کتو او د هیواد په کچه د خلکو د ژوند د څرنګوالي د سروې په اساس چې بیوزلي پکې (٥٤,٥٪) ښودل شویده اما د میدان وردګو ولایت د هیواد د نور ولایاتو پر پرتله ورسته پاتي ولایت دی په همدی دلیل د بیوزلی کچه د مرکزي احصائې د معلوماتو په بنسټ پورته (٦٠,٤٪) په کې ښودل شویدی، د پورته ارقامو په پام کی نیولو سره د  میدان وردګو ولایت سیمه ایزی اداری باید ترپخوا زیات کار وکړی .

د دي  لپاره چې د راتلونکې لپاره ښه او عملي کیدو وړ پلانونه ولرو، اړینه ده چې د اهدافو تر ټاکلو وړاندې باید پراوسني وضعیت پوه شو. ترڅو وکوالي شو په اسانی د راتلونکې لپاره مسیر وټاکو . د همدي لپاره د میدان وردګو ولایت د اقتصاد ریاست د ولایت د مقام په همکارۍ او د سمیه ایزو ادارو د پیاوړتیا د نوښت د پروژی په تخنیکی همکارۍ داسند چې د ولایت د تولنیز او اقتصادی پروفایل په نامه په ولایت کې د ټولو ادارو په همکارۍ چمتو شوی دی. یاد سند د ولایت په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کوی.

په دي سند کې د پورته موخو د لاسته راوړلو لپاره د اقتصاد ریاست له ټولو سکتوري ریاستونو او ولایتی ادارو سره یوځای د ولایت په کچه په تیرو پنځلسو کلونوکې د زریزه پرمختبایي موخو ، د افغانستان د پرمختیایي ستراتیژۍ او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پر اساس د ولایت اوسنی وضعیت څیړل شوی او د ولایتی ادارو د پلي شویو پرمختیاتي پروژه او پروګرامونو د سکتورونو په کچه په تیرو شپږو کلونو کې د بودجو لګښت وړتیا په اړه هر اړخیز معلومات راټول او تحلیل شوي دی،ترڅو وکوالي شو د ولایت د شته سرچینو او وړتیاو څخه ښه ګټه واخستل شي او د ولایت په کچه متوازن پرمختګ او وده ته لاره برابره شي.

په پای کې هیله لرم چې د دي راټولو شویو مالوماتو(ولایتی پروفایل) له مخې به وکولای شو چې نور پرمختیایي پلانونه ترتیب کړو   ترڅو د میدان وردګو ولایت هر اړخیزې پراختیا ته زمینه برابره شي.

**دګر جنرال مظفرالدین یمین**

**د میدان وردګو والی**

# لنډیز

د بهیر پرمختګ، په بنسټیز ډول سره تدریجي بڼه لري او د تدوام او  هغه ته عمومي بڼې ورکولو لپاره باید بل القوه سرچینې، په مدیریتي طریقو او بل الفعله ټولنیز ذهنیت باندې بدل شي. تر ټولو بنسټیز عنصر چې کولای شي د مدیریت د بهیر په اغېزمنتوب کې زیاتوالی راولي، د کړنلارو طرحه او ترتیبول او د سرچینو او امکاناتو د ګټه اخیستنې طریقو ته سیستماټیکه بڼه ورکول دي تر څو د پرمختیایي موخو د پلي کېدو او تداوم لپاره لاره هواره شي.

په لوړه او کښته کچه پلان جوړونه باید پر کره او هراړخیزه ارقامو او مالوماتو باندې تکیه ولري تر څو د وخت او سرچینو له ضایع کېدو څخه مخنیوی وشي او پلان جوړونه مثبته اغیزه ولري. د هراړخیزو مالوماتو او ښکاره او ثابتو ارقامو د نه شتون په صورت کې، د ټاکلي ټولنې د اقتصادي او ټولنیزو واقعیتونو او حالاتو په تړاو روښانه او پر حقایقو ولاړه ارزونه او تحلیل شوونی نه برېښي؛ طرحه شوي پروګرامونه له اړین اغیزمنتوب پرته تطبیقیږي؛ او د سرچینو د ضایع کېدو او له منځه تلو لامل ګرځي.

له همدې امله د اقتصاد وزارت په دې وتوانېده چې دغه پروفایل د یو ریښتینې بنسټ او د هېواد په کچه د یوې مالوماتي سرچینې د ټاکلو او ولایتونو د شته حالاتو په هکله کره مالوماتو ته د لاسرسی په موخه د پالیسي جوړونکو، پلان جوړونکو، څېړونکو، دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو، خیریه بنسټونو، زده کوونکو او لیکوالانو لپاره تر تیب کړي. یاد پروفایل د تخنیکي کمېټې په مټ جوړ شوی چې مرکزي او ولایتي مسلکي کارکوونکو ګډون په کې کړی وو او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو، ځوانانو، پوهنتونونو د ښوونکو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولایتي ادارو په همکاری جوړ شوی او د افغانستان د خلکو چوپړ ته وړاندې کیږي.

یاد پروفایل له پلان جوړونکو او پالیسي جوړونکو نهادونه سره مرسته کوي تر څو خپل پرمختیایي پروګرامونه طرحه او ترتیب کړي او د اقتصادي او تولنیزي پرمختیا د فعالیتونو اغیزمنتوب په ټولو پرمختیایي سکټورونو کې، د هر ولایت اړونده جغرافیایي حالاتو ته په کتو وارزوي او تحلیل کړي. پر دې سربېره، لومړیتوبونو او د انډولیزې پرمختیا سرچینو او امکاناتو ته په کتو، یاد سندکولای شي له هغه سیمو سره هم زیاته مرسته وکړي چې زیانمنونکي ګڼل کیږي.

دغه سند اته څپرکي لري. په لومړي څپرکي کې د ولایت په اړه مالومات وړاندې شوې او تر هغه وروسته د ولایت اقتصادي ظرفیتونو، د معیشت حالاتو، ټولنیزو او فرهنګي جوړښتونو ته اشاره شوې ده. په دویم څپرکي کې د ولایت پرمختیایي حالت، د سکټوري کمېټو(د کرنې او کلیو د پراختیا، زیربنا او طبیعي سرچینو، روغتیا او خوړو، د اقتصاد اداره او خصوصي سکټور پرمختیا، پوهنه او فرهنګ او ټولنیز خوندیتوب د سکټورونو) جوړښت، په ولایت کې د شته ظرفیتونو او پانګونو د حالت ... پر بنسټ ارزول شوی دی. په درېیم څپرکي کې د پرمختیایي بودیجې او په تېرو څو کلونو کې د هغې د لګولو په اړه خبرې اترې شوې دي. په همدې ډول، د نادولتي مؤسسو د فعالیتونو څرنګوالی په څلورم څپرکي کې وړاندې شوی دی. پینځم څپرکی د سرچینو د تشخیص او ولایت د اقتصادي پوټنشیلونو په اړه مالومات وړاندې کوي او شپږم، اووم او اتم څپرکی په ترتیب سره، د لومړیتوب لرونکو ملي پروګرامونو، احصائیې د ملي اداري د ورستیو ارقامو او افغانستان د دومداري پرمختیا پروګرام د مالوماتو پر بنسټ، د ولایتونو د بنسټیزو اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو په هکله خبرې کوي.

## میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څېړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.

د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد  ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.

پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې  او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېرکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

# د دې سند پیژندنه

د دې  لپاره چې د راتلونکې لپاره ښه او عملي کیدو وړ پلانونه ولرو، اړینه ده چې د اهدافو تر ټاکلو وړاندې باید پراوسنې وضعیت پوه شو. ترڅو وکوالي شو په اسانۍ د راتلونکې لپاره مسیر وټاکو . د همدې لپاره د میدان وردګو ولایت د اقتصاد ریاست د ولایت د مقام په همکارۍ او د سمیه ایزو ادارو د پیاوړتیا د نوښت د پروژې په تخنیکی همکارۍ داسند چې د میدان وردګو ولایت تولنیز او اقتصادی پروفایل په نامه په ولایت کې د ټولو ادارو په همکارۍ چمتو شوی دی. یاد سند د ولایت په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کوی.

دا چې هر پروفایل د خاصو موخو او اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر اوسنۍ وضعیت څیړي ، داسند هم د  د میدان وردګو په ولایت کې د ټولنیزو حالت او ټولنیزو جوړښتونو سربیره د ولایت اقتصادي حالت چې په هغه کې شته اقتصادی وړتیاوی ار سرچینی په هر اړخیز ډول تر څیړنۍ لاندی و نیول شوی ،ترڅو وکوالی شو له شته سرچینو څخه د یاد ولایت د ښیرازی لپاره ښه ګټه واخلو.

د هیواد په کچه متوازن پرمختګ او وده د افغانستان  د حکومت د لومړیتوبونو څخه دي او د هیواد په کچه متوازنه وده د خدمتونو دوړاندې کولو اغیزمنتیا د منظمو پرمختیایی پروګرامونو او پلانونو دطرح او پلی کولو او د ولایت په کچه د مالوماتو اغیزمن سیسټم د لرلو پرته چې په کې د پرمختیایی سکټورونو پر بنسټ پرمختایی اړین ارقام او معلومات په واضحه توګه نه وي، ممکن ندی.

په دې سند (ولایتی پروفایل) کې د پورته هدف د لاسته راوړلو لپاره د اقتصاد ریاست له ټولو سکتوري ریاستونو او ولایتی ادارو سره یوځای د ولایت په کچه په تیرو پنځلسو کلونوکې د زریزه پرمختبایې موخو ، د افغانستان د پرمختیایي ستراتیژۍ او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پر اساس د ولایت اوسنی وضعیت څیړل شوی او د ولایتی ادارو د پلي شویو پرمختیاتي پروژه او پروګرامونو د سکتورونو په کچه په تیرو شپږو کلونو کې د بودجو لګښت وړتیا په اړه هر اړخیز معلومات راټول او تحلیل شوي دی ، تر څو وکوالي شو د میدان وردګو ولایت د شته سرچینو او وړتیاو  څخه ښه ګټه واخستل شي او د ولایت  په کچه متوازن پرمختګ او وده ته لاره برابره شي.

په دې سند کې دافغانستان لپاره د پایښت لرونکي پراختیا هدفونه (A-SDGs) او دافغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ (ANPDF) ترځنګ د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو په پام کې نیولو سره د ولایت به کچه اوسنی حالت څیړل شوی ترڅو وکوالي شو د اړتیا وړ پلانونه جوړ او پلی کړو.

# لومړی څپرکی

## د ولایت په اړه عمومي مالومات

### دولایت پیژندنه:

د میدان وردگو ولایت د افغانستان د مرکزي او دویمې درجې ولایتونو څخه دی چې د کابل ښار لویدیځ پلو ته په ۳۳ کېلومتري واټن کې پروت دی. شمال ته یي پروان او بامیان ولایتونه ، ختیځ ته یي کابل او لوگرولایتونه ، سویل ته یي غزني او لویدیځ ته یي د بامیانو ولایت پروت دی. د مرکز په گډون ۹ اداري واحدونه لری چې عبارت دي له میدان ښار، نرخ، جلریز، چک، دایمیرداد( جلگه)،سیدآباد، جغتو، لمړی بهسود ، مرکزی بهسود دی، زیاتره سیمه یي غرنۍ ده او کرنیزه ځمکه یي ۱۲۸۰۰۰ زره جریبه ته رسیږي.

د میدان وردگو ولایت د طول البد په (۶۸. ۸۶۳۸۳) درجو او د عرض البد (۳۴،۳۹۴۵۸) درجو کې موقعیت لري ، چې د سمندر د سطحې څخه ۲۲۲۵ متره لوړوالی لري او د ولایت ټول مساحت (۱۰۹۱۲) کیلومیره مربع ته رسیږي.

د میدان وردگ ولایت اقلیم سوړ اوکلنی وربښت یې ۳۰۰-۴۰۰ ملي متره ته رسیږي ، کوم سیند چې د دایمرداد ، چک اوسیدآباد د ولسوالیو شیخ آباد او تنگی له دري څخه تیریږی د میدان وردگ ولایت په ساحه کې د کابل که سیند سره یوځای کیږی . دغه سیند د اونۍ له غره له جنوب ختیځ او سنگلاخ څخه سرچینه اخلي . ورپسي هغه سیند چې دنرخ له ولسوالۍ څخه راوځي او د ابراهیم خیلو د کلي په لومړی برخه کې ورسره گډیږي د للندر په سیمه کي دمیدان وردگ سیمه پریږدي او د کابل ښار د الوخیلو په سیمه کي د کابل سیند سره یوځای گیږي . په پسرلي او دوبي کې یې هوا معتدله خو منې او ژمي کې یې هوا ډیره سړه وي او د ژمي پرمهال ډیره واوره وریږي او د هیواد په سړو سیمو کې شمیرل کیږي.

د میدان وردگ ولایت آب او هوا په اوړي کې نسبتاً گرمه او ژمی یې ډېر یخ او د واورو اوربښت پدې ولایت کې زیات دی. ددې ولایت وگړي په عمومي ډول په کرهنه، بڼوالي او مالداري بوخت دي- کرنیز تولیدات یې غنم ، جوار ، وربشې، لوبیا، کچالو او سبزیجات او میوې لکه مڼې او زردالو چې ځانگړی شهرت لري چې سربېره د داخلي مصارفو څخه یوه زیاته اندازه یې گاونډیو هیوادونو ته هم صادریږي. همدارنگه لاسي صنایع یې ټغر، لمڅې، شال، جاکټ، دستکش او نور له مریو او دانو څخه جوړ شیان دي.

دمیدان وردگ ولایت کرنیزه ځمکه (۴. ۴۳۹۲۱) هکتاره ښودل شوي ده چې د هغه له جملې (۳۲۶۹۱) هکتاره ابي ځمکه ، (۱۱۱۲۰) هکتاره للمي ځمکه او (۱۱۰.۴) هکتاره دولتی ځمکه ده . په نمځني ډول د دي ولایت آبي ځمکه (۱۰۹۸۰) هکتاره باغونه دي او د ټول ولایت په کچه ۱۷۶۵۴۵ هکتاره ځمکه څړ ځایونه دي.

په میدان وردگ ولایت کې د څښاک او کرهنې دواړو لپاره د اوبو منابع وجود لري، اما د دغو اوبو د مهار کولو، ذخیره کولو او یا تنظیم کولو لپاره بنسټیزې پروژې وجود نلري.

همدارنگه په میدان وردگ ولایت کې ۹۳ کانونه ثبت شوي دی، چې په هغې کې د مرمرو ، گچو، کرومایت او داسی نور کانونه شتون لری چې د میدان وردگو ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کې موقعیت لري.

په دې ولایت کې ۱۸ داسې تاریخي او قدیمي ځایونه وجود لري، چې باید په اساسي ډول وکیندل شي او د قاچاق او غلا مخه یې ونیول شي.  د میدان وردګ ولایت تر ټولو غټه ستونزه فقر او بې کارې ده.  او هر کال تقریباً ۳۶۰۰  زده کوونکې له لېسو څخه فارغېږي او ددغه تعداد یوازې په مشکل سره ۵۰% پوهنتونونو ته جذب کېږي او پاتې یې بې کاره پاتې کېږي چې متاسفانه دوي د بې کارۍ له کبله د مخالفینو یا غلو د شومو  پلانونو ښکار کېږي او د ځوانانو اکثره همدا برخه د ولس او حکومت په خلاف د اقتصادي ګټو په خاطر په جګړه بوخت دي.

د میدان وردګو ولایت ولس پوهنه او زده کړه خوښوی په ډېرو بدو شرایطو او له کمو امکاناتو سره یی خپل بچیان ښونځیو ته لیږل  دوی د اوس لپاره ۱۵۶۰۲۳ تنه زده کوونکی لری چی له دی جملی څخه یی ۴۰۸۹۸  تنه یی نجونی دی چی په ۴۸۲ ښونځیو کی په زده کړه بوخت دی . البته له دغه جملی څخه تقریباً ۷۹۹۰۰ تنه زده کوونکی یی په ازاده هوا کی پراته دی او تعمیر نلری

## د میدان رودګو ولایت دتاریخ په هنداره کې

دهیواد په کچه لمړی ځل لپاره د اساسی قانون او دیموکرسۍ د پلی کولولپاره د هیواد په کچه په تشکیلاتو کی بنستیز بدلونونه را میځه شول. د میدان وردګو ولایت د امیر شیرعلی خان له واکمنۍ څخه را  په دیخوا د کابل په ولایت پوری تړاو درلود ، خو په ۱۳۴۳ لمریز کال کي د خلکو د ستونزو له کبله جي که محاکمو سره يي لرل او ورځني ارتباط او اجراییور کارونو لپاره په خپل وخت ولایت او حکومتی ته رسیدلی نشول ، نو میدان وردک د افغانستان په اداري چوکات کي يو ځانګړي ولايت شو.

د میدان وردکو ولایت مرکز په لمړی سر کي کوټه عشرو و ، خو د سردار محمد داود خان په وخت کي يي مرکز له کوټه عشرو څخه میدانښار ته و لیږدول شو، چی تراوسه پوري د دغه ولایت د مرکز په توګه پاتی دی

د دغه ولایت نوم یوازی وردک و ، خو د داکټر نجیب الله د واکمنۍ که نسکوریدو څخه وروسته د دغه ولایت نوم میدان وردک باندی اړول شوی دی.

هغه مهال چې غزني د افغانستان پلازمېنه وو نو په میدان وردګ یې ډېره اغیزه وه او بیا چې کابل د افغانستان مرکز شو نو اوس هم دغه ولایت د ځانګړي ارزښت څښتن دی د کابل د نیولو له پاره چې کوم نړیوال زبر ځواك هیله څرګنده کړې ده نو د وردګ میدان له لارې کابل ته راننوتي دي له سکندر نه را واخله تر عربو پورې او هغه مهال چې انګریزانو د کندهار له لارې په داسې حال کې چې شاه شجاع ورسره مل وو کابل ته یې د راننوتو تکل وکړ نو بیا د اوسني وردګ میدان له لارې ورننوتل او کابل یې لاندې کړ که دغه بهرنیانو له یوې خوا زموږ د هېواد د نیولو هڅه کړې او خپله سیاسي واکمنۍ یې پرې تپلې ده خو له بلې خوا یې زموږ په اولسي فرهنګ او ادب هم اغېزه ښندلې ده د ساري په توګه زموږ اریایي پرمختللې ویدي او اوستایي فرهنګ چې اوږد تاریخ لري د همدغو تېریو له کبله، را واخله یوناني، هندي او نورې کلتوري اغېزې، نبغ په نبغه زموږ په فرهنګ پریوتي دي. که څه هم د بېلابېلو توکمونو د واکمنۍ په مهال د علامه حبیبي په اند"زموږ د هېواد ویدي او اوستایي لرغوني او فکري او فرهنګې مبادلې د هخامنشي، یوناني، هندي او بودایي مدنیتو له اثارو سره ګډ شوي او د شمالي توراني آریایانو د ساکانو اوسیتي تهذیبي عناصر هم په کې ننوتل او یو ډېر غښتلی افغاني فرهنګ یې مینځته راووړ.

د کوشانیانو د واکمنۍ په مهال د افغانستان لرغوني فرهنګ دومره شتمن شو چې ساری یې په نړۍ کې ډېر لږ لیدل کیږي او دغه کلتوري وده او پرمختګ نه یوازې د اوسني افغانستان له پاره یو ګټور میراث دی بلکې په سیمه کې د ډېرو هېوادونو له پاره یو بې ساری مادي او معنوي ارزښت دی چې د اوسني مهال له پاره یې هم په توکو او انځورونو ګالري ګانې او موزیمونه ډك دي فرانسوي موسیو فوشه دا خبره څرګنده کړې ده چې کوشاني پرمختللی فرهنګ له نوښتونو ډك دی. د همدې نوښتونو له بابته دی چې آن تر هنده یې غځونې کړي دي او ددې نوښتونو بېلګې په افغانستان کې هم ډېرې دي لکه د بغلان د مهادژ مزدك چې د موندل شوي ډبرلیك له مخې د کنشکا د واك د ۳۱ کال په پسرلي کې یې جوړ کړی دی او د سپېڅلي اور نښې په کې پیدا شوي دي. د هغه مزدك جوړونکی "نوکونزیکي نومیده چې د ماریګ Marigله کورنۍ څخه و. د فرانسوي څېړونکي مریك Marik په وینا د دې کورنۍ نوم د دوه ورونو له نامه سره د وردګو د خوات په خروشتي ډبرلیك کې هم راغلی دی. حال دا چې د بغلان په مهادژ مزدك کې د اور لمانځنې اثار او د وردګو دخوات په ډبر لیك کې د بودایي دین نښې څرګندې دي. دا مزدك د کنشکا د جلوس پر ۵۱ کال د۱۸۰ ز شاوخوا ودان شوی دی.

موږ د وردګو د خوات ډبرلیك یادونه وکړه او له دې یادونې څخه جوتیږي چې په دغه ولایت کې هم ډېر لرغوني توکي ښایي وموندل شي خو کومې خېړنې چې تر اوسه په دې اړوند شوي ترې داسې ښکاري چې د میدان وردګ سیمه هم زموږ د لرغوني فرهنګ یو شتمن ټاټوبی دی. د دغه ډبرلیك په اړه تاریخپوه اروا ښاد کهزاد کاږلي دي"د غزني د شابهار مزدك د جوړوونکي واکمن د پېژندنې په اړه تر اوسه کوم باوري لاسوند نه لرو، خو څرنګه چې د وردګو د خوات په لوی مزدك کې د (هوویشکا) په نامه یو ډبرلیك لرو نو ویلای شو چې د غزني شابهار به هم د کوشاني پېر د همدغه لوی واکمن په لاسو جوړ شوی وي. لوی واکمن مو ځکه ورته وویلې چې هوویشکا د کنشکا د ځای ناستو په مینځ کې تر ټولو ډېر پېژندوی دی د هند د ډهلي سهیل خواته ( ماتور)کې یې هم د یوه لوی مزدك بنسټ ایښی وو.

موږ د مخه د کابل او غزني د اغېزو په اړه یادونه وکړه او ومووېل چې د میدان وردګ څنګه چې د دغو دوه تاریخي پلازمینو په مینځ کې پروت دی هرو مرو به لرغوني اغېزې پرې وي را واخله د کوشاني واکمنو څخه د یوه تن (هوویشکا)ډبرلیك چې د وردګو په خوات کې تر ګوتو شوی دی. دا چې د وردګو سیمه د غزني له ولایت نه دومره لرې نه ده او دا دواړه ولایتونه یو له بل سره جوخت پراته دي نو د اټکل له مخې د غزني شابهار هم دده اړوند ګڼلای شو . او همدا راز د میدان وردګو ولایت یوه بله تایخي سیمه د جغتو سیمه ده چې د تاریخي لحاظه د اهمیت وړ ده، د اسلام نه مخکې د هفتالي دولت په پیر(عصر) کې جغتو د جګدو په نامه سره یادیدلو، چې وروسته په جغتو آوښتی دي، په خپله غیږ کې تاریخي ښار برغولی، بند سلطان، او د هلاکو غر ته ځای ورکړي دي، د (هیون څانګ) نومې بودایي عالم له چین څخه تر هنده او له هند څخه تر چینه یونلیك په چیني ژبه لکیلی دی، نوموړی اول د بودایي دین مرکز افغانستان ته د لویو لویو معابدو د لیدلو لپاره راغلي، بیا لدې ځایه هند ته سفر کړی، د هند څخه بېرته افغانستان ته راغلی، لوی استاد علامه اکاډیمیسن پوهاند عبد الشکور رشاد د (هیون څانګ) او یونلیك داسې راپېژني"هیون څانګ د بودایي دین ستر عالم په۶۰۳ میلادي کال د چین Koushih نومي ښار کې زیږیدلی او په ٦٦٣میلادي (۴۳هـ ق) د چین په Kaoching نومي ښار کې مړ دی، ده له هندي ژبې څخه ۷۳ بودایي متنه په چیني ژبه اړولي وو، نوموړی چې د هندوستان له سفره چین ته ورسید، شل آسونه یې په کتابونو بار وو، په دغه کتابونو کې ٦۵۷ بودایي متنونه او شرحې وې، ده په دغه سفر کې له (٦۲۹ع)کال (۸ هـ ق) څخه تر (٦۴۴ع کال) (۲۴هـ ق) پورې پنځلس کاله تېر کړي، له هندوستانه څخه ، د ٦۴۴ع کال د جون په پنځلسمه فالانا ( اوسنی بنو) ته راغلی او د جون پر پنځوشتمه اپوکان (ابوګان ؟ افغان = پختیا ( اوسنی پکتیا) ته راغلی

بیا له اپوګانه د جګدو (اوسنی جغتو) له لارې د ٦٤٤ع کال د جولای په لومړۍ ورځ کاپیسا ته رسیدلی دی". لدې ځخه را په ډاګه کېږي، چې د جغتو سیمه ډېر لرغونی تاریخ لري. دمخه مو دا خبره هم وکړه چې میدان وردګ په لویه لاره پروت دی نو ځکه د هېواد د بېلابېلو سیمو څخه ګڼ توکمیزه وګړي او خیلونه دلته استوګن دي. د روایاتو له مخې د پښتنو هغه پنځه پښې یانې ښېټني، سړبني، غرغښتي، متوزي او کرلاڼي چې په ټول هېواد کې خواره واره پراته دي دارنګه په میدان وردګ سیمه کې هم ددې هرې پښې خیل اوسیږي ولې پخپله وردګ د کرلاڼي پښتنو یوه څانګه ده چې اصلي ټاټوبی یې دسلیمان غر په ګوته شوی دی خو اوس د دوي سیمه (وردګ)د پاراپامیزاد او نورو غرونو په مینځ کې را ګیره ده. مهمې سیمې یې سیداباد، چك وردګ، بهسود، نرخ، جلریز، جفتو، دایمیرداد، تنګي، شیخ اباد، شنیز، خوات، او نورې دي . هوا یې په اوړي کې معتدله او په ژمې سړه ده[۱]. ځمکه یې حاصل خېزه ده. غلې دانې په کې کرل کیږي او راز راز مېوې هم لري خو دمنو حاصلات یې زیات دي.

## دنوم ایښیدلو وجه

دا چې په د ولایت کی د وردګو قوم چې  د کرلاڼي پښتنو یوه څانګه ده دلته استوګن دي په همدی وجه په لمړیو کی د دغه ولایت نوم یوازی وردک و ، خو د داکټر نجیب الله د واکمنۍ که نسکوریدو څخه وروسته د میدان د سیمی د اوسدونکو به غوښتنه د دغه ولایت نوم په میدان وردک باندی اړول شوی دی.

## عمومي نفوس/ وګړي

دمیدان وردګو دټول وګړو شمیر په ١٣٩٦ کال کښې ٦١٥٩٩٢ تنه اټکل شوې چې له دې جملې څخه ٣١٥٧٥٣ تنه نارینه(٥١,٢٦ سلنه) نارینه او ٣٠٠٢٣٩ تنه  (٤٨,٧٤ سلنه) ښځینه وګړي ښځینه وګړي دي. همدارنګه د ١٣٩٦ کال کښې د میشتو وګړو له جملې څخه ٦١٢٧٤٦  تنه ( ٩٩,٥  سلنه) کلیوالي او ٣٢٤٦ تنه  (٠,٥ سلنه) ښاري وګړي جوړوي.

د کوچي وګړو په اړوند باید ووېل شي چې د ١٣٨٣ لمریز کال د ملي څو اړخیزې سروې ترنامه لاندې په هیواد کې تر سره شوه، د تجزئی او تحلیل څخه وروسته د سروی پایلې دا په ګوته کوې چې د افغانستان په کچه کوچی و ګړو شمیر ١,٥ ملیونه تنو ته رسیږي چې په بیلابیلو ولایتونو کې استوګن دي او په یاده شمیره کې د ولایتونو په میشتوګړ ي کې شامل ندي. په پورته سرشمیرنه کي دوګړو د ودې کچه ١,٦٣ سلنه اټکل شوي دی[۲].

د مرکزی احصائیی د اداری د معلوماتو پر بنست هغو وګړو کچه چې د کارکولو وړتیا لري.؟

دمیدان وردګو د وګړو شمیر په ١٣٩٦ کال کښې دعمر دګروپونوپربنسټ (٠-١٤ / ١٥-٦٥ / ٦٥- +) د وګړوسلنه /فیصدی دولایت په کچه نده ښودل شوی اما د هیواد د ټولو وګړو شمیر د عمر دګروپونو په توپیر سره ښودل شوی دی. چې د پورته اټکل د شنې په پایله کې لاندی ګروپونه په لاس راځی[۳].

جدول ۱ دعمر د گروپونو سلنه د ولایت په کچه

| شماره | دعمرگروپونه | دعمر د گروپونو سلنه د ولایت په کچه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | ټول |
| ۱ | ۰ تر ۱۴ کلونو پوري | ۲۴,٦۸ | ۲۲,۸۴ | ۴۷,۵۲ |
| ۲ | ۱۵ تر ٦۴ کلونو پوري | ۲۴,۸٦ | ۲۵,۰۵ | ۴۹,۹۱ |
| ۳ | ٦۵ او له هغي پورته | ۱,٦۳ | ۰,۹۴ | ۲,۵۷ |
| | ټول | ۵۱,۱۷ | ۴۸,۸۳ | ۱۰۰ |




روښانه کونکی رسم ۱ دعمر پر بنست د وګړو د سلنه

## دمیدان وردگو ولایت توپوگرافیکی نقشه



## دولایت لرغوني برخې او تاریخې ماڼې(دودونه اورواجونه)

په میدان وردگوولایت کې ځینی تاریخي او لرغوني ځایونه موجود دی، چې باید په اساسي ډول وکیندل شي او د قاچاق او غلا مخه یې و نیول شي. دغه ځایونه په لاندې ډول دي:

- گنبد شاه او د چغتایي خاندان ( نرخ ، کانعزت کلی )
- د الغطا تاریخې ښار گوټي ( نرخ ولسوالي )
- د خواجه بلند ولي تپه ( نرخ )
- د ده مسلم تپه ( نرخ)
- د کشک تکانه غونډۍ ( جلریز)
- سرچشمه زیارت ( جلریز)
- انگور باغ ( چک سیاب)
- کاپر کلا یا پاره کلا ( دایمیرداد ولسوالي)
- بودک غونډۍ ( دایمیرداد)
- چتو غونډۍ ( دایمیرداد)
- کتب غونډۍ ( دایمیرداد)
- بودک کلاخ ( دایمیرداد)
- سیاب لرغوني سیمه ( چک)
- باد آسیاب غونډۍ (سیدآباد )
- جوی زنگي دره ( لومړي بهسود)
- سکرک ( مرکزي بهسود)
- ارگ غونډۍ ( مرکزي بهسود)
- د چهل گزی بابا زیارت ( نرخ ده مسلم )

همدا راز د جغتو ولسوالی په خپله غیږ کې تاریخي ښار برغولی، بند سلطان، او د هلاکو غر ته ځای ورکړي دي چې هر یو یې په تفصیل سره په لاندې ډول تشریح کیږی

### دسلطان بند

دا بند د جغتو په لمنه کې پروت دی، پداسې ځای کې چې د جغتو د بیلا بیلو خوړونو لاري په همغه ځای ورسیږي دي، د ژمي د واورو او د پسرلي د بارانونو اوبه همدلته غونډیږي، دغه بند د سلطان محمود غزنوي دولت پر مهال د همغه پیر (عصر) په تخنیکي نورمونو اباد او د غازي امان الله خان د پاچاهۍ پر مهال بیا جوړ شوی، له دغه بند څخه د وردگو یوازې دوه کلي گټه پورته کوي او نورې ټولې اوبه د خواجه عمري په شنه او ښکلې سیمه کې، چې د هزاره گانو سیمه ده بهیږي او دغزني ښار شا او خوا سیمي خړوبوي.

## د هلاکو غر

دا غر د جغتو ولسوالۍ ختخه د گرد چاپیره غرونو لوړه څوکه ده، چې د جغتو په سویلي لوري کې د بند سلطان په غاړه د برغولي په نامه د پرتي سيمې په څنگ کې غزيدلې، د هلاکو بابا د غره په نامه سره د سړي ذهن ته د هغه هلاکو او د هغه پلار چنگيزخان تاتاري زوي را ټوپ کړي ، چې د منگوليا په غرو کې يې خواره واره تاتاريان تر يو بيرغ لاندي را غونډ کړل، لومړی يې د چين هېواد تر پښولاندي کړ، بيا يې اسلامي نړۍ ته مخه کړه په منځني اسيا کې يې د اسلامي پياوړي خوارزم شاهي دولت ته پښې اړم کړي، خوارزم شاهي دولت په ډېره ميړانه له اسلامي خاورې دفاع وکړه، خو څرنگه چې د چنگيز لښکري خورا ډېري او پياوړي وې اسلامي دولت د دغه بې رحمه لښکر په وړاندې کمزوری شو تاتاري لښکر اسلامي خاورې ته را ننوتل هر څه يې تالا والا کړل، مسلمانان يې شهيدان، ښارونه يې ړنگ، جوماتو او علمي مراكز يې له خاورو سره خاورې کړل، شنې او سمسوري سيمې يې په سپيرو دښتو واړولې ان افغانستان ته راورسيدل او دجغتو سيمه کې يې لويې لويې هډې او لښکر ځايونه جوړ کړل، برغولی، کلمنار او هفتاله دا دهغه وخت آبادې سيمې وې، اصلي خبره داده چې دا بل هلاکو دی او د اسلام نه وړاندې په هفتالي دولت کې تېر شوی او دې غره يې تر ننه نوم ژوندی ساتلی دی.

د هفتالي دولت پر مهال پدې ځای کې ښارونه آباد وو، لوی استاد علامه عبدالحي ليکي، چې هفتاله د هفتالي دولت مهم ځای ړ او هفتالي دولت د اسلام نه وړاندې پدې سيمو کې واکمن دولت وو، د همغه پير (عصر) آثار او بېلگې کشف شوي دي.

## برغولی

دا سيمه د هلاکو غره او بند سلطان ترمينځ پرته سيمه ده، داسې ښکاري، چې دا سيمه د ډېرو ابادیو او بې شميره نسلونو کوربه وه، همدا اوس هم په خپله غيږه کې داسې يو ځای لري، چې د هيواد او په ځانگړې توگه د غزني څخه هر کال بې شميره هندوان ورته راځي، زيارت يې کوي، خپل ديني مراسم تر سره کوي او ډېرې قربانۍ کوي، د برغولي په سيمه کې د تېر عصر آثار موندل کيږي، قيمتي ټوټې، تيږي او داسې نور څيزونه ترلاسه کيږي، کله چې باران وشي د سيمې هلکان دې سيمې په هسکو ټيټو کې د قيمتي او ارزښتناکو توکيو پلټنه کوي، د برغولي په سيمه کې دوې لوړې لوړې غونډۍ دي، چې پخوا پکې ژرندې آباد او د باد په مټ به چليدلې.

# دویم څپرکی

## اقتصادي او ټولنيزي پراختيا ته يوه کتنه

### د ولایت د ټولیز وضعیت ارزونه

دمیدان وردگو ولایت له مرکزی ولایتونو څخه دی،چې د لوګر، غزني،باميان او پروان ولايتونو سره ګاونډ کی پروت دی.

په دې ولایت کې میشت قومونه له پښتنو ، هزاه او تاجک څخه عبارت دي ، همدارنګه په دي ولایت کې دوه مذهبی ډلي دي چې يو د امام ابو حنيفه او بله يې اهل تشيع دي . چې دوی خپل مذهبی مراسم په ډيره ښه بڼه ترسره کوي او د دوی ترمیځ هیڅ ډول ستونزی شتون نلری.

همدارنګه پدی ولایت کې ۳۲ سیاسي ګوندونه شته دی ، خو د راټول شوه معلوماتو پربنسټ دا سیاسي ګوندونه زیاتره د شخصي موخو لپاره کارکوي. او يو شمير ګوندونه په هغه وخت کي چي سیاسي مسائل ګرم وی په موقت ډول د ولایت په مرکزاو لسواليو کي فعاليت پيلوي،او اکثر وقت يي دفترونه په مرکز دولايت کي تړلي وی چي دا کار يي خلاف د قوانینو دی او ديو شمير نور ګوندونو دفترونه د امنيتی ستونزو له کبله دفترونه تړلي دی،يعني په ازادانه شکل فعاليت نشي کوی.

لاندی جدول د میدان وردګو ولایت کی د سیاسي ګوندونو نوم لړ وړاندی کوي

جدول ۲ د سیاسي ګوندونو نوم لړ

| شمیره | د ګوند نوم | موقعیت يې | کتنی |
|---|---|---|---|
| ۱ | حزب توحيد مردم افغانستان | رهنمای معاملات میدان | |
| ۲ | حزب اسلامی افغانستان | مرکز میدان د ګل الرحیم ودانی | |
| ۳ | حزب حرکت اسلامی افغانستان | مرکز بهسود ولسوالي | |
| ۴ | حزب دعوت | | |
| ۵ | حزب انسجام ملی افغانستان | ولسوالی مرکز بهسود | |
| ٦ | حزب وحدت ملی افغانستان | مرکزي بهسود ولسوالي | |
| ۷ | حزب مشارکت ملی افغانستان | میدان وردک ، د رجب هوټل ترشاه ، لمړي پوړ | |
| ۸ | حزب محاز ملی افغانستان | ولایتی شورا ته مخامخ، لمړي حويلي | |
| ۹ | حزب جبهه ملی نجات افغانستان | د بهسود لمړي حصه | |
| ۱۰ | حزب جمهوري خواهان | میدان وردګ ، حبیبی مارکیت ، دويم پوړ | |
| ۱۱ | حزب اقتدار ملی افغانستان | میدان وردګ ، الخليج د تيلو ټانک ته مخامخ | |
| ۱۲ | حزب وحدت اسلامی ملی مردم افغانستان | مرکزي بهسود ولسوالي | |
| ۱۳ | حزب عدالت و توسعه | د بهسود لمړي حصه | |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | حزب حق و عدالت | میدان وردگ ، عبدالرحیم امرخیل ودانی |
| ۱۵ | حزب نهضت اسلامی افغانستان | تگاب بازار ، مرکزی بهسود ولسوالي |
| ١٦ | حزب صلح ملی افغانستان | مرکز میدان داوده خان ښارګوټی |
| ۱۷ | حزب ملت متحد افغانستان | مرکز میدان |
| ۱۸ | حزب وحدت ملی افغانستان | مرکز میدان اصلاحات اداری پروژه |
| ۱۹ | حزب اقتدار ملی افغانستان | مرکزي بهسود  ولسوالي |
| ۲۰ | حزب حرکت انقلاب اسلامی مردم افغانستان | د ولایت مرکز د شاه نور تیلو ټانک ته مخامخ |
| ۲۱ | حزب انصاف ملی افغانستان | زینت مارکیت |
| ۲۲ | حزب قیام ملی افغانستان | دشت توپ ولسوالی سیدآباد |
| ۲۳ | حزب کار و توسعه | د ولایت مرکز بانک ته په خیرمه |
| ۲۴ | حزب کنگره ملی افغانستان | مارکیت حاجی گل رحیم |
| ۲۵ | حزب الله افغانستان | حاجی فیروز احمدزی مارکیت |
| ٢٦ | حزب رفاه ملی | ? |
| ۲۷ | حزب جمعیت اسلامی افغانستان | مارکیت حاجی گل الرحیم |
| ۲۸ | حزب حقیقت | مارکیت خدرخیل |
| ۲۹ | حزب اسلامی متحد افغانستان | د ولایت فامیلی |
| ۳۰ | د افغانستان د اسلامی وحدت ولسی تحریک | د ښاروالی مارکیت |
| ۳۱ | حزب توسعه افغانستان | ولسوالی مرکز بهسود |
| ۳۲ | حزب وطن | مرکز بهسود ولسوالی |

همدارنګه په نوموړي ولایت کي ۳۹ مدنی ټولنی فعالیت کوي چي په مرکز کي د عدليي وزارت سره ثبت او راجستر دي او د اطلاعاتو او کلتور رياست سره بشپړه همغږي لري.

جدول ۳ د مدني ټولنو نوم لړ

| شمیره | د ټولنې نوم | موسس | د تاسیس کال | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دخواخوږي علمی،فرهنگی او ادبي ټولنه | محمد هاشم شیراني | ۱۳۸۴ | |
| ۲ | د میدان وردګو ولایت د خلکو د یوالي سرتاسري ټولنه | فریدون الکوزی | ۱۳۹۰ | |
| ۳ | دچک ادبي بهیر | گل رحمان رحماني | ۱۳۸۵ | |
| ۴ | د میدان وردګ ولایت د ځوانانو ملي او ټولنيز ارگان | نجیب الله فکرمن | ۱۳۸٦ | |
| ۵ | ځلاعلمي او کلتوری ټولنه | نجیب الله هوتک | ۱۳۸۵ | |
| ٦ | عهد علمي او ادبي ټولنه | حیات الله | ۱۳۸۴ | |
| ۷ | د میدان ځوانانو ادبي او کلتوري ټولنه | همت الله امینزی | ۱۳۸۴ | |
| ۸ | لمر وړانګه ادبي او فرهنگی ټولنه | جلان اشنا | ۱۳۸۵ | |
| ۹ | مرکز فرهنگی استقلال | متین خداداد | ۱۳۸۴ | |
| ۱۰ | آینه بهسود | امان الله شیرزی | ۱۳۸۵ | |
| ۱۱ | جغتو ادبي او علمي ټولنه | مدیر عبدالمتین | ۱۳۸۹ | |
| ۱۲ | سلیمان فارس ادبي او فرهنگی ټولنه | عبدلعزیز امرخیل | ۱۳۸۵ | |
| ۱۳ | نهاداجتماعي نداي زن افغان | عزیزه احمدی | | |
| ۱۴ | دمیدان ولس د پیوستون ټولنه | جاوید صمدی | ۱۳۹۰ | |
| ۱۵ | انجمن اجتماعی و فرهنگی طراط نور | حلیمه عسکری | | |
| ۱٦ | د میدان دخلکو د پرمختګ ټولنه | محمد شریف عمرزی | ۱۳۹۲ | |
| ۱۷ | نهاد اجتماعی و فرهنگی کوهساران | فخریه رحمانی | | |
| ۱۸ | د افغان انجینرانو ټولنه | حبیبی | ۱۳۸۷ | |
| ۱۹ | نهاد اجتماعی همبستگی زنان وردگ | فوزیه سروری | | |
| ۲۰ | دالله یارخیلو اجتماعی ټولنه | رحیم الله | | |
| ۲۱ | نهاد اجتماعی سامدی | کلثوم سامدی | | |
| ۲۲ | د وردګو دخلکو دیوالي ټولنه | امان الله عالمي | | |
| ۲۳ | نهاد اجتماعی زنان پیشگام افغانی | روزماه رضایی | | |
| ۲۴ | دلفت اجتماعی ارگان | شاه محمد | | |
| ۲۵ | د وردګو دمعیوبینو اجتماعی ټولنه | محمد الله | | |
| ۲٦ | نهاد اجتماعی محصلین بهسود | ظاهر محبوب | | |
| ۲۷ | د روښني موسسه | داکتر روشنک | | |
| ۲۸ | دافغان خویندو یون | حمیرا حقمل | | |
| ۲۹ | د وردګ ځوانانو اجتماعی ټولنه | عبدالمتین عمری | | |
| ۳۰ | نهاد اجتماعی ندا امید زن افغان | ذکیه نظرابی | | |
| ۳۱ | د جلریز دځوانانو ادبی ټولنه | نوراغا امرخیل | | |
| ۳۲ | دره نور اجتماعی ټولنه | حاجی برهان الدین | | |
| ۳۳ | نهاد اجتماعی بانو افغان | هاجر میرزایی | | |
| ۳۴ | د افغانستان د مبتکرو ښځو ټولنه | گل اندام دینا | | |

دیادولو وړده چي د مدني ټولنو او سیاسي گوندونو ونډه د ولایت په سیاسي ، امنیتي او اقتصادي چارو کي ډیره مهمه ده ، چی د دوي ونډه د ښې حکومتوالۍ د تحقق لپاره لاره اواروي.

په دي ولايت کي يو شمير ټولنيزي ډلي شتون لري چي د دي ټولنيزو ډلو اغيزه د ولايت په عمومی وضعيت باندې د امنيتي ، اجتماعي او اقتصادي پلوه لاندی جدول څيړي او همدارنګه د شته معيارونو او مقرراتو څخه د دوی پيروي او د سيمه ييزه حکومت يي ملاتړ څرګندوي.

جدول ٤ د ټولنيزو ډلو ونډه د عامه خدمتونو په برابرولو کي

| شماره | دټولنيزي ډلي نوم | اغیزه له امنیتي پلوه | اغیزه له اقتصادي پلوه | اغیزه له اجتماعي پلوه | ایا دکار دشته معیارونو سره سم کار | دسیمه ییز حکومت څخه یې ملاتړ څرګنده |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بزګران او مالداران | نبه | ډيربنه | نبه | هو | قوي |
| ۲ | صنعت کاران | نبه | ډيربنه | نبه | هو | قوي |
| ۳ | لوی او کوچني سوداګر | نبه | نبه | نبه | هو | قوي |
| ۴ | د لاسي صنايع جوړونکي ښځي | نبه | ډيربنه | نبه | هو | قوي |
| ۵ | د علما او مساجدو شورا | ډير نبه | نبه | نبه | هو | ډيرقوي |
| ٦ | مدني او فرهنګي ټولني | نبه | نبه | نبه | هو | قوي |
| ۷ | د تجاراتو اتحاديه | نبه | ډيربنه | نبه | هو | ډيرقوي |

دلاندی جدول د يادو شويو ټولنيزو ډلود عامه خدمتونو په برابرولو کي ونډه او دوی د خپل نفوذ څخه په استفادې سره دعامه خدمتونو ته لاسرسي څرنګوالی ښيئ

جدول ٥ د ټولنيزو ډلو د نفوذ څخه په استفادې سره عامه خدمتونو ته لاسرسي

| شمیره | دټولنیزي ډلي نوم | په تولیداتو او عامه خدماتو کي يي سهم يابرخه( قوي، منځني، ضعيف ، ناموجود) | | | | | دخپل نفوذ څخه په استفاده سره يي توليداتو يا عامه خدماتو ته لاسرسی ( لوړ، منځني، ټيټ ، ناموجود) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ښوونه او روزنه | روغتیا | برېښنا | اوبه | ټولنیز سهولتونه | ښوونه او روزنه | روغتیا | برېښنا | اوبه | ټولنیز سهولتونه |
| ۱ | بزګران او مالداران | قوي | ضعیف | ناموجود | ضعیف | منځنی | لوړ | منځنی | ناموجود | منځنی | ټیټ |
| ۲ | صنعت کاران | منځنی | ضعیف | ناموجود | ضعیف | منځنی | منځنی | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |
| ۳ | لوی او کوچني سوداګر | ضعیف | منځنی | منځنی | ضعیف | منځنی | لوړ | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | د لاسي صنايع جوړونکي بنځي | قوي | ناموجود | ناموجود | ناموجود | منځنی | لوړ | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |
| ۵ | د علما او مساجدو شورا | قوي | منځنی | ناموجود | ناموجود | منځنی | لوړ | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |
| ٦ | مدني او فرهنگی ټولنې | قوي | منځنی | ناموجود | ناموجود | ناموجود | لوړ | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |
| ۷ | د تجارانو اتحادیه | منځنی | ضعیف | ضعیف | ضعیف | منځنی | منځنی | منځنی | ټیټ | منځنی | منځنی |

## ۱. د دروغتيا د سکتور د اوسني وضعيت ارزونه

روغتيا د ميدان وردگو د ولايت يو مهم لومړيتوب دی. پرته له بشپړ، رواني، فزيکي او جسمي روغتيا څخه ناروغه ټولنه نشي کولای په خپلو پښو ودريږي، سالم فکر نشي کولای او په پايله کې د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې په درد نه خوري. د روغتيا دې اهميت ته په پاملرنې د روغتيا د سکتور په وضعيت کې د کتنې وړ مثبت بدلونونه رامنځته شوي. د مثال په توګه د دادل د سيمې خلک حاضر شوي څو خپله شخصي ځمکه د دادل د روغتيايي کلينيک د لاسرسی کمېټې ته ورکړي.

د روغتيا په برخه کې په دې ولايت کې يو مرکزي روغتون شتون لري ، او همدا راز د ولايت دټولو ولسواليو اومرکز په کچه داساسی روغتيايی خدمتونو ټولګه (BPHS) چې (۴) د ولسوالی دکچې دروغتون ، ،(۹) جامع روغتيايی مرکزونه، (۲۷)اساسی روغتيايی مرکزونه اود (۳۹)فرعی روغتيايی مرکزونه او (۲۸۸)روغتيايی پوستې پکی شتون لري. او د روږدو کسانو د درملنې لپاره ۲۰ بستريز روغتون موجود دي، چې د ولايت په کچه ټول ۸۰ روغتيايي مرکزونه کيږي.

همدا راز د روزنې په برخه کې يو د ښځينه نرسنګد تربيه کولو ښوونځي چې٦۳ تنو زده کوونکيو له جملې يی ۳۸ فارغي او ۲۵ په زده کرو بوختې دي موجود دی، او يو د قابلو د تربيه کولو ښوونځی چې ۱۵٦ تنه زده کوونکي يی روزلې دي هم موجود دي.

د کابل کندهار د لوی لاری په اړدو کی د عاجلو پيښو د ښه منجمنت او اداره کولو په موخه ۲ دوه بابه ودانی چې په امبولانسونو به مجهز وی د جوړيدو په حال کی دی

د دی ولايت (۱۵) په سلو کی اوسيدونکی په څينو سيموکی روغتيايی مرکزونوته د خلکو رسيدنه له يو ساعت څخه زياد وخت اخلی يعنی روغتيايي خدمتونو ته په ښه توګه لاس رسی نه لري .

هغه ستونزې چې د روغتیا په برخه کې وجودې دي عبارت دي له، تخصصی روغتیایی خدماتو ته چی په ولایتی روغتون کی شتون لری د ولایت اکثریت وګړی په ښه توګه لاس رسی نه لری . د ولایت د حقیقی نفوس نه شتو ن او د ولایتی روغتون ستندرد ودانی نه درلودل. د ولایت په اکثر سیموکی د ښځینه داکترانو نه شتون او په لری پرتو سیموکی د ښځینه کارکونکو لپاره د روغتیایی مرکز تر څنګ د استوګنځی نه شتون

پرته له څلور روغتیایی مرکز څخه ټول روغتیایی مرکزونه د ولایت په کچه اساسی او پخی و دانی لری، په ۱۱ لری پرتو روغتیایی مرکزونو کی د ښځینه روغتیایی کارکونکو د اوسیدلو ودانی جوړی شوی دی همداراز (۸۰) دولتی او (۳) شخصی روغتیایی مرکزونه شتون لری.

## روغتیايي متخصصین او مسلکي کسان

